علم او فن - علمي څېړنيزه مجله

# د ولسوالۍ په کچه د کرنيزو ترويجي برنامو پلانول

ميرآقا حسين خيل[۱]
[۱]د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګه، کرنې پوهنځی، کابل پوهنتون

**لنډيز**
کرنيز ترويج په کليوالي سيمو کې د بزګرانو او کليوالو خلکو د ژوندد معياري کېدو، معلوماتو او مهارتونو د خپرېدو او تلپاتې کرنيزې پراختيا لپاره حياتي رول لري. د ترويجي برنامو پلانول په ځانګړي وخت کې د ترويجي فعاليتونو، لازمې بوديجې، بيلابيلو پروژه، تخنيکي کسانو، اړوندو مهارتونو او نورو له پلان څخه عبارت دی چې معمولاً هر کال د ولسوالۍ په کچه د ترويجي واحدونو له لوري ترسره کيږي. د افغانستان په ډېری ولسواليو کې بزګرانو ته د ترويجي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره ترويجي واحدونه رامنځته شوي دي. ددې مطالعې مؤخه د ولسواليو په کچه د ترويجي برنامو د پلانولو د ميکانيزم، ستونزو او حل لارو څېړنه ده. د کابل ولايت سروبي ولسوالۍ د کرنيز ترويج واحد د پيښېزې مطالعې (Case study) په توګه په پام کې نيول شوی دی. معلومات د ترويج له سيمه ايزو مامورينو، مخکښو بزګرانو او د کليو له مشرانو څخه د متمرکزو ګروپي بحثونو او مرکو له لارې راټول شوي دي. همدارنګه له کتابخانه يي تګلارې څخه استفاده شوې ده. په هېواد کې ترويجي خدمتونو ته د بزګرانو د نه لاسرسي يو ستر لامل د ولسواليو په کچه د ترويجي برنامو په ښه توګه نه پلانول ګڼل کيږي.
**کليدي ټکي**: ترويج، ترويجي برنامه، د کرنيزې ترويجي برنامې پلانول، د سروبي ولسوالۍ، کوچني بزګران

# Planning of Agricultural Extension Programs at District Level

Miraqa Hussain Khail[1*]
[1]Department of Agricultural Economics and Extension
[*]Corresponding Authro Email: miraqa_hussainkhail@yahoo.com

**Abstract**
Agricultural extension plays a vital role in improving the lives of farmers and rural communities, disseminating information and skills, and ensuring sustainable agricultural development in rural areas. The planning of extension programs involves organizing extension activities, required budget, various projects, technical personnel, relevant skills, and others within a specific timeframe, usually conducted annually by the district-level extension unit. In many districts of Afghanistan, extension units have been established to provide extension services to farmers. The purpose of this study is to examine the mechanisms, challenges, and solutions of planning extension programs at the district level. The agricultural extension unit of Surobi district in Kabul province is considered as a case study. Data was collected through focused group discussions and interviews with local extension workers, lead farmers, and village elders. Additionally, library methods were also used. A main reason for farmers' limited access to extension services in the country is the poor planning of extension programs at the district level.
**Keywords:** Extension, Extension Program, Agricultural Extension Program Planning, Surobi District, Small-scale farmers.

## سریزه

د ترویجي برنامو پلانول د بزګرانو او کلیوالو خلکو د ژوند د وضعیت یو ښکاره انځور وړاندې کوي، هغه وضعیت بیانوي چې خلک په کې ژوند کوي. هغه ستونزې تشریح کوي چې ددې وضعیت برخه دي، هغه مؤخې بیانوي چې د ستونزو د حل لپاره ټاکل کیږي او د مؤخو د ترلاسه کولو او د ستونزو د حل لپاره لازم وړاندیزونه ښیي. د ترویجي برنامو پلانول د پرېکړه کولو یو بهیر دي چې موجوده وضعیت او ستونزې کره او تحلیلوي، د ستونزو د حل لپاره بېلابېلې لارې چارې په ګوته کوي. د حل لارو، اړتیاوو او شته سرچینو پر بنسټ لومړیتوبونه ټاکي(Abbas et al., 2009). په سمه توګه د ترویجي برنامو پلان د کلیوالو خلکو او بزګرانو د پوهې، معلوماتو او مهارتونو د لوړتیا له کبله د هغوي د اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ژوندانه د ښه کېدو ډاډ ورکوي. ترویجي برنامه د کلیوالو خلکو د ژوندانه په بېلابېلو اړخونو لکه کرنه، روغتیا، کورنی مدیریت، ښوونه او روزنه، ټولنیزې اړیکې، چاپېریال ساتنه او نور برخو کې پلي کېدای شي (Hamad & khezraji, 2011) او (Groninger & Pense, 2013). د کرنیزو ترویجي برنامو پلانول یوه مهمه پروسه ده چې د کلیو او ولسوالیو په کچه د بزګرانو او مالدارانو اړتیاوې، ستونزې، شته منابع او د کرنې سکټور پراختیایي مؤخې په بر کې نیسي- (بهرام، ۱۳۹۴؛ فضل ، ۱۴۰۱). دا پروسه د کرنې د پراختیا، د بزګرانو او کلیوالو خلکو د لوړتیا لوړونې او د پایداره (پایښت لرونکې) کرنې د ملاتړ لپاره ترسره کیږي(Al-khazraji, 2018). ددغې څېړنې مؤخه د ولسوالیو په کچه د کرنیزو ترویجي برنامو د پلانولو میکانیزم، ستونزو او حل لارو بیانول دي. معلومات د کابل ولایت سروبي ولسوالی له ترویجي واحد، مخکښو بزګرانو او سیمه ایزو مشرانو څخه د مرکو او متمرکزو ګروپي بحثونو له لارې را ټول شوي دي.

## د ستونزې بیان

د ولسوالی، ولایت او ملي کچه د کرنیزو ترویجي برنامو پلانول د ترویجي خدمتونو په وړاندې کولو او د بزګرانو د ستونزو په حل کې بنسټیزه موضوع ګڼل کیږي. اما لیدل کیږي چې ترویجي خدمتونه په ښه توګه بزګرانو ته نه رسیږي او د دوی په ژوند کې کوم مثبت بدلون نه لیدل کیږي. په ډېری ځایونو کې بزګران له ترویجي خدمتونو څخه خوښ نه دي او ویل کیږي چې د نورو عواملو ترڅنګ د ولسوالیو په کچه د ترویجي برنامو نه پلان یې یو عامل دی؛ د دغې ستونزې سپړل ددغې څېړنې بنسټ جوړوي.

## د څېړنې تګلاره

دغه څېړنه په لومړنیو او دوهمي ارقامو ولاړه ده. د کابل ولایت سروبي ولسوالی د کرنیز ترویج واحد د پېښېزې مطالعې ( Case study) په توګه په پام کې نیول شوی دی. معلومات د ترویج له سیمه ایزو مامورینو، مخکښو بزګرانو او د کلیو له مشرانو څخه د متمرکزو ګروپي بحثونو او مرکو له لارې راټول شوي دي. همدارنګه له کتابخانه یي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده او معلومات له بېلابېلو علمي مقالو او تخنیکي راپورونو څخه ترلاسه شوي دي. لومړني معلومات د یادې ولسوالی له ۴۰ تنو مخکښو بزګرانو او سیمه ایزو مشرانو څخه د تنظیم شوي پوښتنلیک له لارې معلومات راټول شوي دي. د دوی اندونه او نظرونه د څېړنې په موندنو کې ځای پرځای او پر بنسټ یې د څېړنو پایلې ترلاسه شوي دي. د سروبي ولسوالی د کابل ولایت له مهمو ولسوالیو څخه ده چې د کابل- جلال آباد په لویه لاره د کابل ښار په شپېته کېلو متري کې پرته ده. نسبتاً یوه کرنیزه ولسوالی ده. کرنه او مالداري یې د ډېری اوسېدونکو معیشت ګڼل کیږي. عمده کرنیز پیداوار یې له غنمو، جوار، انار او بېلابېلو سبزیجاتو څخه عبارت دي. د عامه ترویجي خدمتونو ترڅنګ نړیوالې او ملي مؤسسې او خصوصي سکټور هم په دغه ولسوالی کې بزګرانو ته ترویجي خدمتونه وړاندې کوي.

## د کرنیزو ترویجي برنامو پلان

د ترویجي برنامو پلانول په یو ځانګړي وخت کې د ترویجي فعالیتونو، لازمي بودیجې، بېلابېلو پروژه، تخنیکي کسانو، اړوندو مهارتونو او نور له پلان څخه عبارت دی چې معمولاً هر کال د ولسوالی په کچه د ترویجي واحد له لوري ترسره کیږي (بهرام،۱۳۹۴). د کرنیزو ترویجي برنامو د پلانولو او پلي کولو لپاره یو شمېر اصول او پړاونه شتون لري ( Suvedi & Stoep, 2016). د دغو اصولو له مخې د ترویج فني کارکوونکي او اداري کولای شي خپلې برنامې پلان او په ښه توګه پلي کړي دغه اصول په لاندې ډول دي:

۱- د معلوماتو او حقایقو راټولول: د ترویجي برنامو د پلانونې پروسه د حقایقو پر بنسټ او تحلیل ولاړه وي، د معلومات را ټولول ددغې پروسې د پیل ټکی ګڼل کیږي. د بزګرانو او کلیوالو خلکو په اړه کافي او کره معلومات له بېلابېلو سرچینو څخه راټولیږي. د بېلګې په توګه لومړني معلومات له بزګرانو، بزګریزو سازمانو، سیمه ایزو شوراګانو څخه د سروې، متمرکزو ګروپي بحثونو او ناستو له لارې او دوهمي معلومات د ترویجي ادارو له تیرو یاداښتونو او دفترونو څخه راټولیږي (فضل،۱۴۰۱). په دغو معلوماتو کې د

کلیوالو خلکو او بزګرانو د ژوند پورې تړلي چارې (د خلکو اقتصادي او ټولنیز وضعیت، سوداګرۍ، کروندې او فارمونه، د ټکنالوژۍ کچه، د کرنې سیستم، د ښوونې او روزنې کچه، له نورو خلکو او مارکیټ سره اړیکې، ترانسپورټي اسانتیاوې، کلیوالي زېربناوې، پورنه او کرېډېټ سیستم، بازار/ بازارموندنه، د محصولاتو د ارزښت علاوه کېدو فعالیتونه او وضعیت، د خلکو ترمنځ همکاري او ملاتړ او نورې اړینې موضوعګانې شاملې وي(Pense, & Groninger, 2013) او ( Suvedi & Stoep, 2016).

۲- د وضعیت تحلیل: د راټولو شویو معلوماتو په رڼا او د مخکینیو تجربو په پام کې نیولو سره د سیمې اوسنی اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي وضعیت تحلیل او راتلونکې اړتیاووې په پام کې نیول کیږي(Subhash, 2017).




ډیاګرام ۱: د ترویجي برنامو د پلانولو او پلي کولو پړاونه

۳- د ستونزو پېژندل: د تحلیل پر بنسټ د ستونزو تشخیص یو مهم پړاو دی. په ترویجي برنامو کې لومړیتوبونه او ستونزې د شته منابعو او وخت په پام کې نیولو سره ټاکل کیږي. بزګران او کلیوال خلک ډېرې زیاتې ستونزې لري او د ځینو محدودیتونو لکه د ماهرو کسانو، کافي بودیجې، امکاناتو او وسایلو د نه شتون له کبله د دوی ټولې ستونزې په یو وخت کې نه شي حل کیدای. کافي وخت نه درلودل هم یو ستر محدودونکی لامل دی. پدې توګه نه یوازې کلیوال خلک او بزګران بلکې تمویلوونکي اداري هم د زیاتې مودې لپاره د پایلو د ترلاسه کېدو انتظار نه شي کولای. ښه به وي چې د دغو ټولو لاملونو په پام کې نیولو سره په ترویجي برنامو کې لومړیتوبونه په ګوته شي(Suvedi & Stoep, 2016). یوازې هغه مهمې او لویې ستونزې په نښه شي چې د موجوده منابعو او وخت په درلودو سره حل کېدای شي(فضل،۱۴۰۱). داسې ستونزې ونه ټاکل شي چې مدیریت یې ستونزمن وي. په هر حالت کې د برنامې ناکامي؛ په ترویجي ادارو د خلکو د بې باورۍ او مایوسۍ سبب ګرځي. د ستونزو د پېژندو او لومړیتوب په وخت کې له سیمه ایزو خلکو سره یوځای کار کول او د ستونزو د ونې رسمول (د اصلي ستونزو، د ستونزو د ریښو او اغېزو) مشخصول ډېره مرسته کوي(Sagar, 2023). ددې ترڅنګ ترویجي برنامې چې د کلي، ولسوالۍ، ولایت او ملي کچه جوړیږي باید یو له بل سره همغږې ولري؛ یو د بل پر خلاف نه وي (فضل،۱۴۰۱). اساسي مؤخه د بزګرانو او کلیوالو خلکو د ستونزو حل او هغوی ته ترویجي خدمتونه وړاندې کول وي. همدا ډول د یوې ځانګړې ځانګې ترویجي برنامه د بلې ځانګې د ترویجي برنامې سره په تضاد کې نه وي( بهرام،۱۳۹۴). د ولسوالۍ/ په سیمه ایزه کچه ترویجي واحدونه نه شي کولای خپلې ترویجي برنامې په یوازې ځان ترتیب او پلي کړي(Sagar, 2023). د ترویجي برنامو پلان او پلي کول د سیمې د خلکو، ملي او نړیوالو مؤسسو/ سازمانونو او د خصوصي سکټور ګډون او ملاتړ ته اړتیا لري( بهرام،۱۳۹۴). ترویجي پلان باید په ښکاره توګه ددغو مؤسسو رول او د مؤخو د ترلاسه کېدو لپاره د هغو له خوا ترسره کېدونکي فعالیتونه روښانه کړي(Kock et al., 2010). د هرې ترویجي برنامې د پلانولو او پلي کولو په

پروسه کې د خلکو ګډون، د هغوی د نظرونو اورېدل، له هغوی سره سلا او مشورې کول د برنامې د ښه پلې کېدو او ښو پایلو د ترلاسه کېدو لامل ګرځي (Groninger, & Pense, 2013).

۴- د مؤخو ټاکل: مؤخې د مهم او لویو ستونزو د حل او د بزګرانو د اړتیاوو پر بنسټ ټاکل کیږي مؤخې باید په ښکاره او څرګنده توګه بیان شي. داسې مؤخې وټاکل شي چې د ترلاسه کېدو وړ وي(Hamad & khezraji, 2011).

۵- کاري پلان او مهال ویش: کاري پلان ترتیبول د ترویجي برنامې د پلانولو د پروسې یو بل مهم پړاو دی. کاري پلان باید په لیکلي بڼه شتون ولري او په واضح ډول په کې ذکر شوي وي، چې څوک، کوم کار په کوم وخت په څه ډو ل او په څومره ظرفیت سره ترسره کوي. د ترویجي برنامې په پلې کېدو کې کومې مؤسسې، سازمانونه او نورې خواوې دخیلې دي او د کومو کارونو د ترسره کېدو وړتیا او مسؤلیت لري(Al-khazraji, 2018). د بیلګې په توګه د محصولاتو د بازارموندنې په برخه کې د بزګرانو روزنه د چا له خوا په کوم وخت کې په څومره ظرفیت ترسره شي. داسې موضوعاګانې باید په واضحه توګه په کاري پلان کې ځای پرځای شي. کاري پلان باید ټول اړینې برخې ولري او هیڅ مهم ټکی پاتې نه شي.

۶- د کاري پلان تعقیب او د برنامې عملي کول: د کاري پلان عملي کول د ترویجي برنامې بل مهم اصل او پړاو دی. د ترویج د کارکوونکو له خوا د بزګرانو روزنه، د ښوونیزو قطعو رامنځته کول، د بزګرانو سره منظمې لیدنې او کتنې، د بزګرانو د سیمه ایزو ښوونځو رامنځته کول (FFSs)، د نورو بېلابېلو لارو له مخې د بزګرانو ظرفیت لوړول، د نویو تکنالوژیو انتقال او لیږد، تشویقي مرستې او داسې نور هغه فعالیتونه دي چې په دغه پړاو کې ترسره کیږي (Mayzelle et al., 2015). په دغه پړاو کې د بزګرانو د روزلو او د نویو ټکنالوژیو د معرفي کولو وروسته د بزګرانو د وضعیت په اړه معلومات او نظر ترلاسه کول مهم دي( Pense, & Groninger, 2013).

۷- د کاري پرمختګ ارزونه: د کاري پرمختګ ارزونه موږ ته ښیي چې څومره توانېدلي یو خپلې مؤخې ترلاسه کړو( Sargar, 2023) او Suvedi & Stoep, 2016). د هر ترویجي برنامې لپاره د ارزونې منظم سیستم اړین دی؛ ترڅو پوه شو چې کارونه په څه ډول ترسره شوي دي. د ترویجي برنامو ارزونه یو دوامداره پروسه وي چې د برنامې د پلې کېدو پایلې اندازه او ارزوي؛ ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د برنامې ټول پړاونه په سمه توګه ترسره شوي دي(Suvedi & Stoep, 2016). اروزنه په رسمي او غیر رسمي توګه ترسره کیږي او د برنامې په مهموالي، د فزیکي او مالي منابعو، امکاناتو او وخت په موجودیت پورې اړه لري( Sagar, 2023).

۸- د برنامې بیاکتنه او اصلاح کول: د ارزونې د پایلو پر بنسټ د برنامو د پلان د پروسې کتنه ضروري ده. که اړتیا وي؛ اصلاح د شي. بیاکتنه یواځې د برنامې د ګډونوالو په واسطه نه ترسره کیږي بلکې د اړوندو ماهرینو، ترویجي ادارو، سیمه ایزو بنسټونو نظرونه هم په کې اړین دي. د پلان د پروسې بیا کتنه په برنامو کې د اړینو او مهمو اصلاحاتو او بدلونونو په راوړلو کې ډېره مرسته کوي(Al-khazraji, 2018). د یادونې وړ ده چې ترویجي برنامه د فعالیتونو یوه ثابته لړۍ نه ده بلکې داسې پلانیږي چې وخت په وخت یې د پایلو څارنه او ارزونه ترسره شي؛ ترڅو د برنامې د تطبیق اندازه معلومه شي. د ارزونې د پایلو پر بنسټ کولای شو چې برنامه د اړتیا په صورت کې تعدیل او خپلې مؤخې په ټاکلي وخت کې ترلاسه کړو(Sagar, 2023). د ترویجي برنامو پلان باید د ټولنې د غړو (کوچنیو، متوسطو او لویو بزګرانو او په کلي کې د نورو تولیدونکو) تر منځ د ګټو مساوي ویش ډاډمن کړي ( Pense, & Groninger, 2013).

موندنې ښیي چې په ټولنه (کلي یا ولسوالي) کې معمولاً منابع او نفوذ لرونکي خلک د بې وزله او کمو سرچینو لرونکو خلکو په نسبت د ترویجي برنامو د پلي کېدو له لارې ډېره ګټه ترلاسه کوي(فضل،۱۴۰۱). دا کار کېدای شي ټولنیز توپیرونه او فشارونه رامنځته یا زیات کړي او په ترویجي ادارو د خلکو باور له منځه لاړ شي. د ترویجي برنامو د پلان په پروسه کې د ټولنې په کمزورو او بې وزله خلکو باندې ټینګار کول ضروري دي (Kock et al., 2010). په ترویجي برنامو کې باید په ښکاره ډول د سرچینو شتون او فعالیتونه په ګوته شي. څومره فزیکي او انساني منابع (پیسې، وسایل او بشري قوه او نور) شتون لري. په څه ډول دغه سرچینې ځانګړې او په کار واچول شي ترڅو په ښه توګه د برنامې د عملي کولو او پلي کولو ډاډ ترلاسه شي( & Groninger, Pense, 2013).

د کرنیزو ترویجي برنامو پلانول د منابعو د بې ځایه لګښتونو څخه مخنیوي کوي. د سیمه ایزو ترویجي کارکوونکو لپاره ښه لارښود ګڼل کیږي. په کارونو کې تسلسل رامنځته کوي، د راتلونکو پرېکړو او پلانونو لپاره کره او دقیق معلومات برابروي، د سیمه ایز او

اداري ملاتړ سبب کیږي، سیمه ایزې رهبرۍ ته پراختیا ورکوي او د احتمالي شخړو او خطرونو مخنیوي کوي(بهرام، ۱۳۹۴؛ Sagar, 2023؛ Subhash, 2017).

**بحث او مناقشه**

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ؛ د هېواد د نورو ولسوالیو په شکل د سروبي په ولسوالۍ کې هم هر کال کرنیزې ترویجې برنامې پلانیږي. اما ځینې عوامل یې د پلان او په عمل کې د پلي کېدو مانع ګرځي. د بودیجې او وسایلو کموالی، د ماهرو فني کارکوونکو نه شتون، د ظرفیت کموالی، په پراکندنه ډول د ولسوالۍ په کچه د ګڼ شمېر بزګرانو شتون یې ستر لاملونه دي. فعلاً د ولسوالۍ په کچه اوه تنه تخنیکي او خدماتي کار کوونکي شتون لري چې په هیڅ ډول نه شي کولای د ولسوالۍ په کچه ګڼ شمېر کلیو ته ترویجي خدمتونه وړاندې کړي. ددې ترڅنګ د تخنیکي کارکوونکو لپاره د نقلیه وسایطو نه شتون هم ددغه کار مخه نیولې ده.

لومړی جدول د ولسوالۍ په کچه د ترویجي برنامو د پلان په اړه د مخکښو بزګرانو او د کلیو د مشرانو اندونه او نظرونه ښیي. په دغه جدول کې د ترویجي پلان په اړه بېلابېل نظرونه وړاندې او د لیکرت سکیل په واسطه تحلیل شوي دي. ددغه جدول د معلوماتو پر بنسټ د ترویجي برنامو پلانول د ځینو محدودیتونو له کبله په اصولي ډول نه ترسره کیږي او ټاکل شوي شرایط او پړاونه په پام کې نه نیول کیږي. ډېری وخت دغه پلانونه نیمګړي وي، په دقیقه توګه د ولسوالۍ په کچه د خلکو څخه معلومات نه راټولیږي، راټول شوي معلومات په کره او علمي توګه نه تحلیل کیږي، د خلکو ستونزو ته لومړیتوب نه ورکول کیږي، ډېری وخت د پلان مؤخې روښانه نه وي، حتی د شته منابعو په اړه هم معلومات نه وي. د سیمه ایزو همکارانو ترمنځ همغږي شتون نه لري. د برنامو د پلانونې په پروسه کې بزګرانو او کلیوالو خلکو ته د ګډون زمینه نه برابریږي.

د برنامو د پلي کولو لپاره یو واضح کاري پلان شتون نه لري. د پایلو بیا ارزونه او کتنه نه ترسره کیږي. ډېری وخت ترتیب شوی پلان د کاغذ پرمخ پاتې وي. د ترویجي خدمتونو په اړه د بزګرانو د خوښې کچه ډېره ټیټه ده. په دغه مطالعه کې ترویجي خدمتونه له ټولو هغو هڅو څخه عبارت دي چې د بیلابیلو ادارو له خوا د بزګرانو د ستونزو د حل او ټولنیز-اقتصادي ژوند د ښه کېدو په خاطر ترسره کیږي. د بېلګې په توګه د بیلابیلو لارو په واسطه د بزګرانو د ظرفیت لوړول، د بزګرانو د هڅونې په خاطر د تولید عوامل برابرول، ننداړتونونو ته دعوت، له کروندو لېدنه، له بزګرانو سره د ستونزو په اړه بحثونه کول، په ګروپونو کې د بزګرانو ځای پرځای کول او داسې نورې هڅې شاملې دي.

جدول ۱: د ولسوالۍ د ترویجي برنامو د پلان په اړه معلومات

| ګڼه | بیانه | ډېر موافق یم | موافق یم | موافق نه یم | بېخي موافق نه یم | سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ترویجي برنامو د پلان په اړه راځخه پوښتنه شوې او معلومات را څخه ټول شوي دي. | ۵ | ۵ | ۴۰ | ۵۰ | ۱۰۰ |
| ۲ | د راټولو شویو معلوماتو په تحلیل او د بزګرانو د ستونزو په پېژندو او لومړیتوب په غونډو کې مې ګډون کړی دی. | ۱۰ | ۵ | ۴۵ | ۴۰ | ۱۰۰ |
| ۳ | د ولسوالۍ په کچه د ترویجي پلان مؤخې راته روښانه دي. | ۲۰ | ۲۰ | ۴۵ | ۱۵ | ۱۰۰ |
| ۴ | د ولسوالۍ په کچه د ترویجي پلان د تطبیق په خاطر د شته منابعو په اړه معلومات لرم. | ۵ | ۱۰ | ۳۵ | ۵۰ | ۱۰۰ |
| ۵ | د کلیوالو، بزګرانو، خصوصي سکټور، د ترویج د مامورینو او د مؤسسو د کارکوونکو په ناستو کې مې ګډون کړی دی. | ۱۰ | ۱۰ | ۱۰ | ۷۰ | ۱۰۰ |
| ۶ | د ترویجي برنامو په پلي کې مې ګډون کړی دی. | ۲۰ | ۲۵ | ۲۵ | ۳۰ | ۱۰۰ |
| ۷ | د ترویجي واحد له خوا د برنامو د پلي کېدو لپاره د روښانه او څرګند کاري پلان په اړه معلومات لرم. | ۰ | ۰ | ۲۰ | ۸۰ | ۱۰۰ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | د ترویجي برنامې د پایلو د ارزونې پروسه کې مې ګډون کړی دی. | . | . | . | ۱۰۰ | ۱۰۰ |
| ۹ | د ترویجي برنامو د بیا کتنې او اصلاح جلسه کې مې ګډون کړی او نظر مې وړاندې کړی دی. | . | . | . | ۱۰۰ | ۱۰۰ |

منبع: له سیمې راټول شوې معلومات، ۱۴۰۳ هـ ل.

بزګرانو په خپلو ګروپي بحثونو کې په ډاګه کړه چې د دولتي او د خصوصي سکتور له خوا ترسره شوي ترویجي خدمتونه کم دی، ددې ترڅنګ کوم خدمتونه چې د ملي او نړیوالو مؤسسو له خوا ترسره کیږي؛ هغه هم بسنه نه کوي او بل دا چې په توزیع کې یې عدالت په پام کې نه نیول کیږي. د بزګرانو تخنیکي زده کړې په ښه توګه نه ترسره کیږي. معمولاً هر کال د ولسوالۍ په کچه ۲۰ سلنه بزګرانو ته اصلاح شوی تخم او کیمیاوي سره د دولت او د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې د نړیوال سازمان په ګډه همکاري ویشل کیږي. د ترویج سیمه ایز مامورین د امکاناتو د نشتوالی له کبله یوآځې ۱۲ سلنه بزګرانو ته ترویجي خدمتونه رسولي او بزګرانو ته د ښلابلو برنامو لکه د بزګرانو د سیمه ایزو ښوونځي رامنځته کول، ښوونیزې قطعې رامنځته کول، نندارتونونو ته د بزګرانو دعوت، په دفتر کې کتنې، له بزګرانو سره په مسجدونو، حجرو، هدیرو او نورو ټولنیزو ځایونو کې کتنې، د بزګر کورنۍ ته تګ او له نورو لارو یې د هغوی د ظرفیت لوړونه کړې ده.
د لومړي جدول معلومات ښیي چې د ولسوالۍ په کچه بزګران د ترویجي خدمتونو له کمیت او کیفیت څخه راضي نه دي، ډېری بزګرانو ته ترویجي خدمتونه نه رسیږي. د همغږۍ او د یو شفاف میکانیزم د نشتوالی له کبله هغه ترویجي خدمتونه چې د بهرنیو او کورنیو انجوګانو له لارې صورت نیسي، بسنه نه کوي، په ځینې حالاتو کې یې کیفیت معیاري نه وي او نشی کولای چې د بزګرانو او مالدارنو ستونزې حل کړي. د خصوصي سکتور له خوا ترسره کېدونکي ترویجي خدمتونه بزګرانو ته په ډېره لوړه بیه تمامیږي او بزګران د کمزوري اقتصادي وضعیت له کبله نه شي کولای چې له دغه خدمتونو څخه ګټه واخلي.



ډیاګرام۲: د سروبي په ولسوالی کې ترویجي خدمتونه، وړاندې کوونکي او اخیستونکي خاخیستونکي

د دویم ډیاګرام د معلوماتو پر بنسټ، د سروبي په ولسوالی کې د عامه ترویجي خدمتونو ترڅنګ غیر دولتي مؤسسې او خصوصي سکتور هم د ترویجي خدمتونو په وړاندې کولو او د بزګرانو د ظرفیت په لوړوالی کې په کار بوخت دي. زیاتره کوچني، بې ځمکې او ښځینه بزګران د غیر دولتي مؤسسو له خوا روزل کیږي او د هځونې او نوې ټکنالوژۍ د دودولو په خاطر مرسته ورسره کیږي، لوی او منځنی بزګران د خصوصي سکتور سره وصل دي او د پیسو په مقابل کې ځینې ترویجي خدمتونه، وترنري خدمتونه، ماشین الات، او نور وسایل ترلاسه کوي. دولتي ترویج ټولو بزګرانو ته خدمتونه وړاندې کوي، اما د غیر دولتي مؤسسو او خصوصي سکتور په پرتله یې دخدمتونو ساحه محدوده او یواځې په کمه اندازه د اصلاح شویو تخمونو ویش او د ناروغیو او آفتونو د کنترول په برخه کې مرسته کول دي. لویه ستونزه چې د ولسوالی په کچه یې د ترویجي خدمتونو د وړاندې کولو مخه نیولې ده، پیچلی اداري سیستم، د همغږۍ نشتوالی او د منظم کاري پلان او ترویجي برنامو د پلان نشتوالی دی.

## پایله

د ترویجي برنامو پلانول، په ښه توګه د ترویجي خدمتونو د وړاندې کولو ډاډ ورکوي. د ولسوالیو په کچه ترویجي خدمتونه په سمه توګه نه ترسره کیږي، په پایله کې بزګرانو ته ترویجي خدمتونه په ښه کیفیت او مناسب وخت نه رسیږي چې د هغوی د ناخوښي او د کروندو څخه د کمو عایدو د ترلاسه کېدو سبب ګرځي. که څه هم د سروبي ولسوالی په کچه د ترویجي خدمتونو بېلابیلو وړاندې کوونکي شتون لري، مګر د ترویجي واحد له خوا د ترویجي برنامو د پلان او د همغږۍ د نشتوالی له کبله دغه ستونزه په خپل ځای پاتې ده. ډېری ترویجي خدمتونه یې د خزاني کمپاین تر عنوان لاندې د غنمو د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرو ویش او د غنمو د کښت اړوندو موضوعګانو د زده کړو پورې محدودیږي، په داسې حال کې چې بزګران ظرفیت لوړونې ته، د هڅونې په خاطر بلاعوضو مرستو او سبسایډي ته او د خپلو ګډو ستونزو د حل په خاطر په ځانګړو بزګریزو ګروپونو کې منظمېدو ته اړتیا لري. په پایله کې ویلی شو چې د ولسوالی په کچه ترسره شوي ترویجي خدمتونه په هیڅ ډول د بزګرانو په ځانګړي توګه د کوچنیو بزګرانو او تولیدوونکو ستونزې نه شي حل کولای او یو ستر لامل یې د ولسوالی په کچه د ترویجي برنامو کمروزي پلان یا د پلان نه شتون دی.

## وړاندیزونه

د ولسوالۍ په کچه د ترویجي خدمتونو د وړاندې کولو پلان باید هر کال په ښه توګه د ټولو ذیدخلو کسانو په فعال ګډون او مسؤلیت پذیری سره ترسره شي. همغږۍ د رامنځته او د یو منظم کاري چوکاټ له مخې چې د ټولو برخو فعالیتونه او د فعالیتونو مهال ویش په کې څرګند وي؛ کارونه د پلان شي. ترویجي پلان باید د ولسوالۍ په کچه د منابعو او د کرنې وزارت او اړوندو ادارو د بودیجې په پام کې نیولو سره ترتیب شي. د ترویج سیمه ایزو مامورینو ته د ترویجي پلان د پلي کولو لپاره امکانات او وسایل برابرول اړین دي. همدارنګه زده کړو ایزو وسایلو ته اړتیا ده. اړینه نه ده چې د ترویج تخنیکي مامورین هره ورځ په دفتر کې حاضري ولري، کوښښ د وشي چې دوی د منظم پلان له مخې په کلیو او بانډو کې له بزګران سره وخت تیر کړي. بزګران په ګروپونو کې منظم کړي د هغوی د کروندو او کارو بارونو په ښه کېدو او محصولاتو ته یې په بازار موندنه کې پوره مرسته او همکاري وکړي. د ترویج مامورینو د کارونو د څارنې او ارزونې یو منظم سیستم شتون اړین دی. د ترویجي خدمتونو وړاندې کوونکي او بزګران باید د ترویجي برنامو د پلانوونې په پروسه کې په بشپړه او فعاله توګه برخه واخلي.

## مأخذونه


۱- بهرام، غلام محمد.(۱۳۹۴). د کرنیزو پروګرامونو پلانول. درسي کتاب. کابل پوهنتون نشرات.

۲- فضل، فضل الدین. (۱۴۰۱). مبادی ترویج زراعتی، کتاب درسي. نشرات مطبعه عازم.

3. Abbas, M., Lodhi, T. E., Aujla, K. M., & Saadullah, S. (2009). Agricultural extension programs in Punjab, Pakistan. Pakistan Journal of Life and Social Sciences, 7 (1), 1-10.
4. Al-khazraji, R. M. I. (2018). Applied Extension Planning Process and Its Importance for Ministry of Agriculture. Journal of Agriculture and Veterinary Science, volume 11, issue 12.
5. Groninger, J. W., & Pense, S. L. (2013). Expectations of agricultural extension programmes among local agents and international support personnel in south-eastern Afghanistan. *Outlook on Agriculture*, *42*(1), 17-23.
6. Hamad, T. N., & Al_khezraji, R. M. I. (2011). The Knowledge of Components of Extension Planning Process and its Importance for Ministry of Agriculture. Euphrates Journal of Agricultural Science, 3
7. Kock, T. K., Harder, A., & Saisi, P. (2010). The provision of extension services in Afghanistan: What is happening. *Journal of International Agricultural and Extension Education*, *17*(1), 5-12.
8. Mayzelle, M., Santibañez, M. P., Schweiger, J., & Jallo, C. (2015). Assessment of Information and Communication Technologies in Afghan Agricultural Extension. *Government of the United States of America, University of California: Oakland, CA, USA*.
9. Pense, S. L., & Groninger, J. W. (2013). Assessing extension education efforts in Afghanistan through the eyes of US agricultural support personnel. *Online Journal for Workforce Education and Development*, *6*(1), 4.
10. Sagar M. (2023). Agricultural Extension with Global Innovation. Kalyani Publications.
11. Subhash H. (2017). An Introduction to Agricultural Social Sciences. New Vishal Publications.
12. Suvedi, M., & Stoep, G. V. (2016). Improving the monitoring and evaluation of agricultural extension programs. *USAID. MEAS discussion paper*, *5*.